آریانا افغانستان آنلاین
http://www.arianafghanistan.com

انجنیر سلطان جان کلیوال

۲۰۱٤/۰۲/۰۷

# دگلونو کابل



زمـا یادیـږی د ښـکلا  او  د ګلـونـو کابل
په زړه می اوريږ د خورو ورو ولسونو کابل

کابـل د مینيږ پیرزوییني د احسان نښه ده        کابل دپت نيغه شمله د لوی افغان نښه ده
کابل زما د پرونـي ښایسته جانـان نښه ده        کابل دځمکی په لوی مخ دلوی ایمان نښه ده

دسوچه مینی په نوم جوړ دی د رنګونو کابل
په زړه می اوريږ د خورو ورو ولسونو کابل

ما د کابل هره کوڅه کی ده لیـدلی مینه        ما دجانان سره کابل کی ډیره کړی مینه
ما په ګلـونو د کابل ده تخـنولیږ مــینــه        ما په اوبـو د کابل جان ده لمبولی مـینـه

نه می هیریږی هاغه جوړ له دنګو غرونو کابل
په زړه می اوريږ د ښکلا او د ګلونو کابل

زما کابـل وو، د ښـارونـو افتـخـار کابـل        یا د نــړیٔ د ښـکلا ناوی نو بهــار کابل
یا د زرلښـتو او زرڅانګو زرنګار کابل        یا د نرګسو او غـاټولـو لالـه زار کابل

چا په نظرکړو د خوبانـو د نذرونو کابل
په زړه می اوری د ښکلا او د ګلونو کابل



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

کابل د مینې د وفا او د جمال ښار وو        کابل د پیغلو او زلمیوو د وصال ښار وو
کابل د مینې زنګیدلو ته د تال ښار وو        کابل د ټولو مستو مستو د زلال ښار وو

له چا به هیر شې د خندا او د خوندونو کابل
ډیر می یادیږی هاغه ښکلی د ګلونو کابل

کابل رڼا وه د رڼا د خورلو ښار وو        دغرو سرونو ته د نور د رسولو ښار وو
په شنو درو کی د شبنم د ورولو ښار وو        بی روحه دښتو ته د سا د ورکولو ښار وو

ځنګه تیاره شو د رڼا او د نورونو کابل
په زړه می اوری د ښکلا او د ګلونو کابل

د عبادت ښار وو کابل د مناجات ښار وو        د شوګیرو د رازو نیاز د خرابات ښار وو
دجرګو ښار د مرکو ښار د مسلات ښار وو        د نذرانو د ثوابونو د خیرات ښار وو

دجنګ د اور په لمبو وسوو دویاړونو کابل
ډیر می یادیږی دښکلا او د دګلونو کابل

لکه یو لعل به ځلیده د غرو د کاڼو منځ کی        لکه غاټول به ښکاریدلو دمماڼو منځ کی
یا لکه ستورئ چی ښکاریږی دشنو پاڼو منځ کی        یالکه سپین باز چی شی ګډ دتورو زاڼو منځ کی

هسي کابل وو د فکرونو د خیالونو کابل
وران شو ویجاړ شو د بریو د برمونو کابل

څو **ساده ګانو** د کابل په ګلو اور ولګاو        څو **بی خبرو** یی په شنو کوترو شور و لګاو
څو **زورورو** یی په ستونې باندی زور و لګاو        څو **ګناه ګارو** د ګناه ور باندی تور و لګاو

له سندریز کابل شو جوړ د فریادونو کابل
تباه تباه شو د ویاړونو او برمونو کابل

د نغمو ښار د سوو ساندو او سلګو ښار شو        دغونچو ښار په اور کی وسوو د لمبو ښار شو
هاغه د سپینو شیدو ښار دشنو لوګو ښار شو        آ د ښایست د تصویرو ښار د زخمو ښار شو

جوړه له درد یوه کیسه شوه د دردونو کابل
ډیر می یادیږی د ښکلا او د ګلونو کابل

دستړو زړونو د دمې ښار په ستړیا بدل شو        د خندا ګانو دخوښیو ښار په ژړا بدل شو
آ د خمار او دنشې ښار په غوغا بدل شو        هغه دزړونو د کعبې ښار په صحرا بدل شو

جوړ هدیره شو د آواز او د سازونو کابل
تباه تباه شو د ویاړونو او برمونو کابل

لا تـوره شپه ده په کابل رڼا راغلې نه ده　　　په سپیرو شونډو یی د ژوند مسکا راغلې نه ده
لا جوړیدو ته یی زمونږ سلاء راغلې نه ده　　　لا د وفـا کلــې تـه بـیا وفـا راغلـې نه ده

وړو وړوکې کړو د لویو تاریخونو کابل
نه مـې هیریږی د ښکلا او د ګلونو کابل

بـیا ورتـول شویدی کابل ته د نـړی لیوان　　　توردي که سپین دي سره دي دیو کړی لیوان
د ولس له غوښو جوړوی ځانته مړی لیوان　　　وینو کی ډوب زما دولس دي تر غړی لیوان

خاونده بچ کړې د شملو او د پړونو کابل
د لوی ملت دلوی تاریخ او د ویاړونو کابل

۱۸ اګست ۲۰۰۶